د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

جمعه، 25 صفر، ۱۴۴۶هـ | 2024/08/30م | ګڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۶/7

مطبوعاتي اعلامیه

**له افغانستان څخه د امریکا د وتلو درې کلنې؛ که څیرک و نه اوسو هغه امریکا چې له دروازې ووتله، له کړکۍ بېرته راګرځي!**

د وري نهمه د امریکا د ماتې او له افغانستان څخه یې د وروستي سرتېري د تېښتې له درېیمې کلیزې سره برابره ده. د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د افغانستان مبارزینو، دعوتګرانو او مجاهدینو ته د دغې لوېې لاس ته راوړنې او مبارکې او تاریخي ورځې مبارکي وايي.

دا درېیم ځل دی چې د برېتانیا، شوروي او ورپسې د امریکا تر ماتې وروسته زموږ خاوره له نظامي اشغاله ازاده شوې او د خلافت د تأسیس لپاره زمینه برابره شوې ده. خو درېواره ځله همغه ناکامې تجربې تکرار شوي او حکامو د خلافت د تأسیس پر ځای چې . ستره فریضه ده . ملي دولتونو او پراګماټیکو سیاستونو ته مخه کړې ده. په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ**» *«مومن له یوه غار څخه دوه ځلې نه چیچل کېږي»* (متفق علیه)

په افغانستان او نورو اسلامي خاورو کې تاریخي تجربو ښودلې ده چې مسلمانان تل توانېدلي چې د اشغالګرو پر وړاندې په شجاعت او زړورتیا سره جهاد وکړي او پرې بریالي شي؛ خو د استعمار پر وړاندې په درېدو کې پاتې راغلي او مغلوب شوي دي. لکه څه ډول چې د امریکا نظامي اشغال د دروازې له لارې وشړل شو، خو اوس هڅه کوي چې د کړکیو له لارې بېرته افغانستان ته را وګرځي او دا خاوره بېرته په خپلو استعماري منګولو کې ونیسي.

سیاسي استعمار په یو اړخیزو تړونونو کې د هېوادونو د راګیرولو له لارې، اقتصادي استعمار په مرستو پورې د تړاو او د نا دولتي او بشردوستانه سازمانونو د نفوذ له لارې او مالي استعمار د ډالر په څېر ارزونو او د بانکدارۍ استعماري سیستم پورې د تړاو له لارې عمل کوي. په دې منځ کې فکري او سیاسي استعمار، د استعمار تر ټولو خطرناک ډول دی چې د ملي دولتونو، د ملي منافعو پر بنسټ ولاړو پالیسیو، اقتصاد محور او پراګماټیک سیاستونو او د نړیوال سیکولر نظم په واسطه د رسمیت پېژندنې له لارې مسلمانان د اسلامي مبدأ پر اساس له تفکر او سیاستولۍ څخه را ګرځوي او بېرته یې د استعمار غېږې ته غورځوي. امریکا او غرب هڅه کوي چې د سیمې هیوادونو له لارې د اقتصادي پروژو د پلي کولو او دغه راز د نړیوالو سازمانونو لکه: ملګرو ملتونو، د دغه سازمان فرعي بنسټونو لکه یوناما،WFP ،FAO, OCHA، د اسیا پراختیایي بانک، نړیوال بانک او جنیواکال له لارې خپل سیاسي، فکري او استخباراتي نفوذ په افغانستان کې بنسټیز کړي.

واقعي خپلواکۍ ته د رسېدو اساسي حللاره په داخلي سیاست کې د اسلام بشپړ او هر اړخیز تطبیق او په بهرني سیاست کې په ټولو برخو کې له دښمن سره هر اړخیزه مقابله ده. نو له تېرو ترخو تجربو باید عبرت واخیستل شي او هیڅ اړخ ته د دې اجازه ور نه کړل شي چې د اسلام په بشپړ او هر اړخیز تطبیق کې د مسلمان حاکم اراده تر خپل اغېز لاندې راولي. د استعمارګرو د نفوذ پر وړاندې په مقابله کې د نړۍ له مسلمانانو او اسلامي ډلو سره نږدېوالی خورا اغېزناک او ټاکونکی رول لري. ځکه د امت له وحدت او خلافت له تأسیس پرته دغه ستره مبارزه اغېزناکې پایلې ته نه شي رسېدای.

په واقعیت کې دویم راشده خلافت دی چې امت له جغرافیوي زندان، په نړیوال نظم پورې له تړاو او د استعمار له نفوذ څخه خلاصوي. د نبوت پر منهج خلافت دی چې امت د پانګوالۍ له ظلم او کفر څخه د اسلامي عدالت لور ته هدایت کوي، د امت جګړې له دفاعي حالت څخه هجومي ته تبدیلوي او د استعمارګرو د دروازو په ټکولو سره هغوی په خپلو خاورو کې اسلامي نظم ته تسلیموي. دا چاره هغه وخت محقق کېدی شي چې د قدرت خاوندان پر الهي حللارو، د الله تعالی پر وعده او نصرت ایمان ولري او د خلافت د تأسیس په لاره کې جهد، صبر، توکل او تقوا ته غوره کړي، تر څو الله سبحانه و تعالی موږ د استعمار له ټولو دسیسو او نفوذ څخه خلاص کړي.

**وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ** (أل عمران، ۱۲۰)

*ژباړه: او که تاسو صبر وکړئ او تقوا غوره کړئ، د هغوی کید او دسیسه به تاسو ته هیڅ زیان و نه رسوي، بېشکه الله پر هغه څه چې دوی یې کوي، احاطه کوونکی (بشپړ مسلط) دی.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info